ژباړه:عبدالرحمن فرقانی

۲۰۱۰/۰٦/۰۵م

# اسلامي ارزښتونه (اتمه برخه)

لیکنه : مودودي

## د محمد(ص) دنبوت ثبوت :

لږ.څورلس سوه کاله شاته ولاړشه او وګوره, په نړۍ کې نه د بریښنا تارونه وو اونه هم تلیفون, نه ریل و , نه مطبعې وې , نه ورځپانې خپریدی اونه هم کتابونه چاپیدل، نه دسفر کولو هغه اسنتیاوې وې چې نن شته دي , د یوه هیواد څخه بل هیواد ته د رسیدلو لپاره به په میاشتو میاشتو سفرونه کیدل ، په دغه راز یوه چاپیریال کی د عربانو سیمه (جزیره العرب) دیوه ځانګړی خصوصیت څخه برخمنه سیمه وه، تر عربانو د ایران , روم او مصر هیوادونه راتاو وو، چې څه نا څه پکی علم او هنرموجود او دتمدن او مادی پرمځتګ اړوند یې ګامونه اخیستی و، خو لویو لویو بحرونو عربان لدغو هیوادونو څخه بیل کړي وو , د عربانو سوداګرو به په میاشتو میاشتو د وړو کیښتیو په ذریعه د تجارت لپاره دې هیوداونو ته سفرونه کول، خو د دوي راکړه ورکړه لدغو هیوادونو سره یوازی د توکو د اخیستلو اوپلورلو لپاره وه ، په خپله په عربانو کې کوم پرمختللی تمدن او پرمختګ نه و ، نه کومه مدرسه وه , نه کومه کتابخانه وه , نه په خلکو کې د زدکړې هڅوب و , په ټوله سیمه کې د ګوتو په شمیر لیکونکی او لوستونکی وو , خو دا لیکونکی او لوستونکی هم داسې مرحلې ته نه وو رسیدلي ، چې د هغې زمانې له علم او هنراو پرمختګ سره بلدتیا ولري , هلته کوم واکمن حکومت هم نه و , کوم قانون هم نه و, هر قبیله په خپله سیمه کې خپلواکه وه , د آزادۍ سره سره چور او چپاول کیده , د ورځی په رڼا کې خونړۍ جګړې کیدې ، د انسان د ځان او سرهیڅ ارزښت نه و , د چا چې په چا وس رسیده هغه به یې واژه او په مال به یی قبضه کوله ، د اخلاقو او تهذیب هوا هم دوي ته نه وه رسیدلې , د ناوړه کردار ، شراب خورۍ او قمار بازار ګرم و، خلك د نورو په وړاندي بي تکلفه بربنډیدل , حتی ښځوبه په لوڅ اوبربنډ ډول د کعبی طواف کاوه ، د حرام اوحلالو هیڅ توپیر نه کیده ، د عربانوآزادۍ دومره وده کړې وه چې د هیڅ رازقانون اوسیستم پابندۍ ته تیار نه وو, نه د کوم حاکم اطاعت ته تیار وو. د دوي د جهالت څرنګوالی داسي و، چې له تیږې نه دجوړشویو بتاونو پرستش به یې کاوه ، په لاره کی به یی چی کومه ګولالۍ تیږه پیدا کړه ، هغه به یی په وړاندي ایښوده اوپرستش به یی کاوه ، یعني هغه سرونه چی پرته له الله تعالي نه بل چا ته باید ټیټ نه شي تیږو ته ټیټېدل ، او داسې ګمان به یې کاوه چې دا تیږې د دوي اړتیاوې پوره کولاي شي .

په داسې چاپیریال کی داسي یو سړي پیدا کیږي چی په وړکتوب کې د نیکه ، پلار او مور سیوره د ده له سر ه نه لري کیږي ، له دې امله په ټولنه کې هغه رواج شوی تعلیم اوپالنه هم ده ته نه ورکول کیږي ، د پوهیدو سره سم د عربانو د کوچنیانو سره د پسونو څرول په غاړه اخلي ، په ځوانۍ کې تجارت ته مخ اړوي ، د هغه ناسته پاسته ، راکړه ورکړه ، راشه درشه له همغو عربانو سره ده کوم چې وړاندي مو د دوي حالت اوڅرنګوالی تاسو ته روښانه کړ ، د تعلیم او تربیې خو نوم هم نشته حتی لوستل هم نه شي کولي ، خو سربیره پدي د ده عادتونه او اخلاق او خیالونه له ټولو بیل دي , هغه هیڅکله درواغ نه وایي , له چا سره خبره نه اړوي , د ده په ژبه کې د تندۍ پر ځاي خوږ والی وي ،آن تردې چې د خلکوپه زړونوکې د ده لپاره مینه پیدا کیږي ، هغه د چا یوه روپۍ هم په نا روا توګه نه اخلي ، د ده د ایمان دارۍ خو دا حال دي چې خلك خپل مال ده ته د ساتني لپاره ایږدي ، او دي د هغه مال ساتنه لکه د خپل مال غوندي کوي ، ټول قوم د ده په ایماندارۍ اعتبار کوي ، او ده ته ټول د امین په نامه غږ کوي ، د ده د حیا اوپت حال خو دا دي چی له وړکتوب نه ورسته چا لوڅ ندی لیدلی ، د ده د نیك کردارۍ خو دا حال دی چې سره لدې چې د بدکرداره او بداخلاقه خلکو په لمنځ کې اوسیږي خوسره لدې د بداخلاقۍ او بدکردارۍ څخه کرکه کوي , او د ده په هر کار کی سترګي اوپاکي وي ، د ده خیالونه او فکرونه دومره سپیڅلي او پاکیزه دي چې د خپل قوم چور اوچپاول او خونړۍ تګلاره د ده د کړیدو باعث ګرځي ، او د جګړي په مهال د صلحې کوښښ اوزیار کوي ، زړه یې دومره نرم دی چې دهر چا په مصیبت کی شریك وي ، د یتیمانو او کونډو سره مرسته کوي ، وږیو ته خواړه ورکوي ، د مسافرو میلمستیا کوي ،هیڅ چا ته هم لده څخه زیان نه رسیږي او دی د نورو د خوشحالی لپاره نقصان ګالي ، عقل یې دومره سپیڅلی دی چې د بت پرستانو په لمنځ کې د بتانو څخه کرکه کوي ، هیڅکله یې د کوم مخلوق په وړاندي سر ندي ټیټ کړی ، د ده له وجدان څخه دا غږ اورېدل کیږي ، چې د نړۍ په مخ اوپه آسمان کې چې څومره شیان لیدل کیږي په هغه کی داسي کوم مخلوق اوهستي نشته ، چې د عبادت لایق وي ، د ده زړه په خپله وایی چې الله تعالی یو دی شریک نلري ، په دې جاهل قوم کې دا سړي داسې سپیڅلي او بې ساره ښکاري ، لکه چی د تیږو په انبار کی هیره ځلیږي ، یا په تپه تیاره کې شمعه بله شوی وي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ځلوېښتو کالونو په شا اوخوا کې دا پاك , صاف , سپېڅلی سړی چې د يوې معززې تګلارې خاوند دي د هغې تيارې څخه چې هر لوري ته په ټولنه خوره شوې ده انديښمن دی ، اوترې داريږي . د جهالت ، بداخلاقۍ , بدکردارۍ , بد نظمۍ ، شرك او بت پرستي کوم هولناك سمندر چې له ده څخه راتاو دي ، له هغه څخه د وتلو کوښښ کوي ، ځکه چې دلته نور هيڅ څه د ده له طبيعت سره مناسب پاتي ندي ، نو لدې آبادۍ څخه لرې په غره کې يوه غار ته ځی ، او په سکون او ځانګړي نړۍ کې څو څو ورځې تيروي ، اود خپل زړه ، روح او دماغ دلا نور پاکيزه کولو زيار باسي . فکر اوغور کوي تر څو لدې تيارۍ څخه چې لده څخه راتاو شوي ده رڼا ته د وتلو لاره پيدا کړي ، د داسې قوت او طاقت په لټه کې دی چې وکولې شي دا ويجاړه نړۍ بيرته ودانه کړي .

ناڅاپه د ده په حالت کې يو لوي بدلون را منځ ته کيږي ، په يوه وار د ده په زړه کې هغه رڼا پيدا کيږي چې د ده فطرت يې غوښتنه کوله ، ناڅاپه د ده په زړه کې هغه طاقت پيدا کيږي چې لدې وړاندې ندي پيدا شوي . هغوي دی غار له يوازيتوب څخه راوځي ، د خپل قوم څنګ ته راځي , دوي ته وايي چې دا بتان د هيڅ کار وړندي ، دا پيږدي . دا ځمکه, دا سپوږمی , دالمرڼدا ستوري , د دې ځمکې اوآسمان ټولو قوتونه الله تعالی پيدا کړی دي ، هغه د تاسو خالق دی ، هغه رزق ورکونکی دی ، هغه د ژوند ورکونکی او اخيستونکی دي ، ټول پيږدی د هغه عبادت وکړی ، ټول پيږدی د هغه څخه خپلې اړتياوې وغواړي , دا غله او چوروچپاول ، شراب خوري , قمار , بد اخلاقي , وژنه , دا ټول ګناه ګڼل کيږي ، دا پريږدي . دا دالله تعالی نه خوښيږي . ريښتيا ووايی ، انصاف وکړي ، مه د چا ژوند اخلي اونه هم د چا مال ،دچا نه چې څه اخلی په روا توګه يې اخلی ، څه چی چا ته ورکوي د حق په بڼه يی ورکوي ، تاسو ټول انسانان يی ، او انسانان ټول سره برابر دي ، لويي او شرافت د انسان په نسل او نسب کی نوي نغښتې , په رنګ او جنس او مال او دولت کی نوي , په نيکی پاکۍ او دالله تعالی په پرستش کې نغښتی وي ، کوم سړي چې له الله تعالی څخه ډاريږي او نيك عمله اوپاك وي هغه لوي اوسپيڅلي انسان دی ، اوڅوك چې داسې نوي هغه هيڅ هم ندي . له مرګ څخه وروسته تاسو ټول د الله تعالی په وړاندي دريږی ، د دې حقيقي عادل ذات په وړاندې نه سفارش اغيزمن دي او نه هم رشوت چليږي ، نه د چا د نسب پوښتنه کيږي , هلته يوازې د ايمان او نيك عمل پوښتنه کيږي , د چا سره چی ايمان اونيك عملي وي هغه جنت ته ځي ، او د چا سره چې دا شيان نه وي ، هغه په نا مراد ه ځيرپه دوزخ کی اچول کيږي .

دې جاهل قوم د رسول الله صلي الله عليه وسلم د سپيڅلي شخصيت ځورول ځکه پيل کړل ، چی د دوي به اند د دوی د نيکونواوپلرونو هغه خبری چې دوي ته له اوږدې زمانی څخه پاتي وي ، بدې ګڼلي ، او دهغې خبرو روزنه يې خلکو ته ورکوله , چی د دوي د مشرانو له کړنلاری څخه يې توپير درلود , پدې خبرو ده ته ښکنځلي وشوي , په تيږو وويشتل شو , د هغوي صلي الله عليه وسلم ژوند دوي تنګ کړ , د ده دوژلو هڅې وشوې ، يوه دوې ورځې نه بلکه پوره ديرلس کاله يی ديرې سختې ستونزې وګاللي ، حتي چی د وطن په پريښودلويې مجبور کړاي شو ، سره لدې هم په خپل حال پرې نښودل شو، بلکه چيرې يې چې پناه وړې وه ،هلته يی هم ورته ستونزې پيدا کولی .

دا ټولې ستونزې دغه سپيڅلي شخصيت ولې اود څه لپاره ګاللي ؟ يوازې د دې لپاره چې خپل قوم ته سمه اوسيده لاره وښيي ، قوم يې ده ته د پادشاهۍ ورکولو لپاره تيارشوي و ، د دولت انبارونه يی ده ته منل ، چې دي د خپلې لارې څخه واړوي اود خپل قوم روزنه اوتربيه پريږدي ، خو ده هيڅه ونه منل ،او په خپله تګلاره تر پايه ولاړ و ، آيا له دې څخه لوړه نيك عملي او صداقت د تاسو خيال ته لاره پيدا کولي شي چې يو سړي د نورو د ښيګڼې په خاطر دومره ډيرې ستونزې وګالي ؟ همغه خلك چې د دوي د ښيګڼې لپاره زيارباسي او ورته دعا کوي ، دی په تيږو ولي ، انسان خو څه کوې چې فرشتې هم بايد د ده پرنيکۍ قربان شي .

بيا وګوره ، کله چې دا سړي د غارڅخه په دغه راز تعليم او ارزښتونه روزل شوی راووځي ، څومره لوی انقلاب به پکی راغلي وي ، اوس کومې خبرې چې دی کوي ، دومره فصيحې اوبليغې دي چې نه لدې وړاندې چا کړي او نه يې له دې وروسته څوك کولي شي ، عربان په خپله شاعرۍ او خطابت اوبلاغت باندې نازيدل ، ده عربانو ته وويل : چی د دي کلام په څير يوازی يو سورت جوړ کړي ، خو د تولو سرونه د عاجزۍ نه ټيټ شول ، د ده خپلې ذاتی خبرې او ژبه دومره بليغه اوفصيحه نه وه ، څومره چی د دغه کلام ژبه سپيڅلي او بليغه ده ، آن تر دې چې کې نن هم موږ دا کلام د چا له وينا سره پرتله کړو په دواړو کی لوي توپير احساسولي شو .

ده ، هغه بيسواده صحرا نشين انسان داسې له حکمت او دانايۍ څخه ډکې خبرې پيل کړې ، چې نه لده څخه وړاندي چا کړي وي ، اونه يې لده وروسته څوك کولي شي ، اونه څلويښت کاله وړاندي د ده له ژبی څخه دا رازخبرې اوريدل شوې وې .

ده ، هغه امي سړي د اخلاقو , راکړې ورکړې , انساني ژوندانه , سياسيت , او ټولو معاملاتو اړوند داسې قانون اونظام جوړ کړ، چې لوی لوی عالمان د کالونو له تجربی څخه وروسته اود ډيرغور اوفکر وروسته په مشکل د هغه په حکمتونو پوهيږي ، د نړۍ علمي تجربې چې هر څومره پرمختګ کوي ، په هماغه کچه د دې نظام حکمتونه ريښتيني اودا نظام پراخه کيږي ، د ديرلس سوو کالونو په تيريدو سره سره په دې نظام کې د ترميم او جوړولو ځاي نه ليدل کيږي ، د نړۍ نظامونه څوڅوځله جوړ شوي او ړنګ شوی دي ، په هر آزمايښت کی ناکام شوي او ترميم ته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يی اړتيا پيدا شوي ده ، خو دغه صحرانشين امي چی کوم قانون په يوازي توګه پرته دکوم بل انسان له کمك څخه جوړکړي دی ، د دغه قانون يوه برخه هم بدله شوي نده اونه هم دترميمولو ځايه پکښی موندل شوی , ده د ديرشو کالونو په اوږدود خپل نيك عمل او ښايسته اخلاقو او شرافت په پايله کې خپل دښمنان په دوستانو واړول ، خپل مخالفين يې په ملګريو بدل کړل ، لوي لوي قوتونه د ده دشکست لپاره راولاړ شوي و، خو آخرناکام او دده په پښو کې ونړيدل , دي چی کله بريالی شو، له خپلو دښمنانو څخه يې انتقام وا نخيست , له هيچا سره يی سختي اوتندروي ونه کړه , چا چې د ده اصلی اوګران تره وژلي و ، او زړه يی راويستی و ، له فتحی څخه وروسته يی هغه هم وباښه , چا چې دي په تيږو ويشتلی و او له وطن څخه يی ايستلی و, هغه يی هم وبښل ، ده له هيچا سره ناروا ونه کړه ، چی وعده به يی وکړله هغه به يی هيڅکله نه ماتوله ، په جګړه کې يی هم پر چا تيری نه کاوه ، د ده سرسخت دښمن هم په ده باندې د ظلم او ګناه تهمت ونه کړاي شو ، همدا نيکي وه چې د ټولوعربانو زړونه يی ځانته مات کړل ، وروسته ده د خپل تعليم او روزنې په پايله کې وکولاي شول , هغه قوم چې وړاندې يی د وحشت اوبربريت او جهالت څرګندونه وشوه په يوه مهذب او د لوي مقام خاوند قوم باندې تبديل کړ ، هغه عربان چې د هيڅ ډول قانون منلو ته تيار نه وو , هغه يی داسې د قانون تابع اوپابند کړل ، چی دنړی په تاريخ کی بل دا راز د قانون پابند قوم نه و ليدل شوی , هغه عرب چی د چا اطاعت ته تيار نه و , ده هغوي د يوه عظيم الشان سلطنت پابند کړل ، چا ته چی داخلاقو هوا هم نه وه رسيدلی ، د هغوي اخلاق يی داسې پاکيزه کړل ، چې نن د هغوي دحالاتود څرنګوالی په لوستلو نړۍ حيرانه ده , هغه عرب چی دنړي په قومونو کې ټيټ قوم و، د ديرشو کالونو په اوږدو کې يوداسي قوم شو ، چی دايران , مصر اوروم دسلطنتونو تختونه يی چپه کړل , نړۍ ته يی د تمدن پرمختګ اوتهذيب سبق ورکړ، او يوازي داسلام تعليم اوشريعت يی د آسيا او افريقيا او اوروپا په اوږدو اوپراخه سيمو کی خور کړ.

دا خو هغه اثر و چی د عربانو په قوم باندي ظاهر شو , لدي څخه پرته دير نورحيرت انګيزه تاثيرات په ټوله نړي باندي د دغه امي د تعليم او روزنه په پايله کی را ښکاره شول , ده د ټولي نړي په فکرونو , عادتونو, او قانونو کی انقلاب راوست ، دا برسيره په هغوخلکو چی دی مبارک يی خپل لارښود غوره کړی و, خو د حيرانتيا خبره دا ده ، چا چی د ده له پيروۍ څخه مخ اړولي و , چا چې د ده مخالفت کاوه , د ده دښمنان وو , هغوي هم د ده له اثر څخه ځان ونه شوي ژغورلای .
نړۍ د توحيد سبق هير کړي و, ده هغه سبق بيرته ورياد کړ، او دومره په حقانيت اوپياوړتيا يی د توحيد اصول وړاندې کړل، چی بت پرستانو او مشرکين هم د توحيد داوه وکړه ، ده داخلاقو داسي پياوړي تعليم خپور کړ چی د ده اخلاقي اصول په ټوله نړۍ کی وپيژندل شول , ده چی کوم اصول د قانون ,سياست , تهذيب او ژوندانه لپاره وټاکل هغه دومره ريښتنی اوپياوړی وو ، چی حتی د ده مخالفينو هم پټ پټ د هغه له وړو څخه ټولو پيل کړل اوتر نن پوري ورڅخه ګټه اخلي .
لکه څرنګه چې مو وړاندې تا ته وضاحت وکړ، دا سړی په يوه جاهل قوم اوپه يوه ډيره وروسته پاتې سيمه کې پيدا شو, ترڅلويښتو کالونو پوري ده له رمې پولو اوسوداګرۍ پرته بل کار ونه کړ ، نه يې کومه روزنه او تعليم تر لاسه کړ، خو غوريي وکړ. د څلويښتو کالونو څخه وروسته په يوه وار دومره کمالونه له کومه ځايه پده کي راپيدا شول ؟ له کومه ځايه ده ته دومره علم حاصل شو ؟ له کومه ځايه دومره طاقت ورسره پيدا شو ؟ سره لدې چې عادی انسان وو، خو په عين حال کی دې يوبې نظيره سپه سالار هم و , يو پياوړي قاضي هم و , يو بريالي قانون جوړه ونکی هم و , يو بې مثاله فيلسوف هم و , داخلاقو او تمدن يو بي ساره جوړونکی هم و ، د سياست يو حيرت انګيزه ماهر هم و, له دې ټولو مصروفيتونوسره يي د شپې په ساعتونو ساعتونو دالله تعالی عبادت هم کړ , د خپلو ښځو او کچنيانو حقوق يي هم پر ځاي کول ، د بيوزلو او مسکينانو خدمت يي هم کاوه ، د يوه لوي هيواد د پادشاهۍ سره يي د يوه فقير په څير ژوند کړ , په بوزي باندې ويده کيده ، د غريبانو په څيريي ډوډي خوړله ، او کله کله خو وږي هم پاتي کيده .
دا حيرت انګيزه کمالونه چې څوك ګوري ,كه چيرې دی ووايی : چې زه له انسان څخه پورته مخلوق يم هم به څوك پکی شك ونشي کړلاي ، مګر پوهيږي چې دی څه وايی ؟ ده دا نه دي ويلي چې دا ټول زما خپل کمالونه دي ، ده هروخت ويلي دي چې زما سره چې هره څه دی زما خپل ندي ، هر څه د الله تعالی دي ، او دالله تعالی له لوری دي ، ما چی کوم کلام وړاندي کړی دي , هغه کلام چی د هغه په څيرله کلام راوړلو نه انسان عاجز دي ، دا زما کلام ندي ، نه هم دا کلام زما د دماغ د قابليت پايله ده , دا دالله تعالی کلام دي ، او ټوله ستاينه اوپيژندنه يی په الله تعالی پوري تړلي ده ، زما چې څومره کار دي دا هم زما خپل ذاتي قابليت ندی , دا دالله تعالی هدايت دی ، د هغه تعالی له لوري چې څه اشاره کيږي , هغه کوم او هغه وايم . اوس ووايی : چی داسي سپيڅلی سړي ولي دالله تعالی پيغمبر ونه منل شي ؟ د ده کمالونه داسې دي چې په ټوله نړۍ کې تر نن پوري د ده په څير بل انسان ندي پيدا شوي ، د ده صداقت داسې دي چې په خپلو کمالونو فخر نه کوي، پروکړشويو کمالونو باندې فخرنکوی ، اوهغه کمالونه په خپل ځان پوري نه تړي ، بلکه چا چی دا کمالونه ورکړي هغه صاف صاف ښي ، څه وجه کيدلاي شي چې موږ يی تصديق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ونه کړو ؟ کله چي دی په خپله وایی : چی دا ښیګني دالله تعالی له لوري ورکړشوي , نو موږ ولي ووایو چي نه دا د ستا د خپل دماغ پیداوار دي ؟ دروغجن سړي خو دنورو ښیګڼي هم ځان ته منسبوي , خو دا سړي هغه ښیګڼي هم د ځان نه بولي چي په سادګی یی دځان بللي شي , هغه ښیګني چي چا ته یی د حاصلولو ذریعه هم نده معلومه ، د دغو ښیګنو په بنا چي که ده د انسان څخه دلوړوالي داوه هم کړي واي چا یی تردید نشوي کولاي ، نو تاسي ووایی چي لدي څخه بل صادق انسان څوك کیدلاي شي .
وګوري , دا دی زموږ پیشوا ، د ټولي نړی پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ، د ده د پیغمبری دلیل په خپله د ده صداقت دی ، د ده لوي کارنامي دي ، د ده اخلاق دي ، د ده د پاك ژوند واقعات دي . له ټولو تاریخونو څخه ثابته ده ، کوم سړي چي د زړه له خلاصه او د صداقته د ده سپیڅلي شخصیت ولولي په خپله به اعتراف وکړي چي دی دالله تعالی پیغمبر دی , کوم کلام چی ده وړاندي کړي  هغه همدا قران دی چي ته یی لولی ، دا بي نظیره کتاب چي هر څوك دزړه له خلاصه ولولي  ضروربه اقرار وکړي چي دا دالله تعالی کتاب دی ، هیڅ انسان داسي کتاب نه شي تصنیفولي .

د نبوت خاتمه

اوس به تا ته مالومه شوي وي چي د اسلام د لاسته راوړنه لپاره د قران کریم او محمد صلی الله علیه وسلم څخه پرته بله ذریعه نشته ، محمد صلی الله علیه وسلم د ټول انسانیت لپاره د الله تعالی پیغمبر دی , په ده باندي د پیغمبری سلسلبه ختمه شوي ده ، الله تعالی چي څومره هدایت او لارښونه انسان ته کوله هغومره لارښونه یی د آخري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په ذریعه انسان ته رالیږلی ده .  اوس که څوك د الله تعالی مسلمان بنده کیدل غواړي ، او د حق غوښتونکی وي ، نو باید په آخري پیغمبر باندي ایمان راوړي ، کوم تعلیم اوروزنه  چي ده ورکړي  هغه ومني ، اوکومه لاره چي ده ښولي د هغي لاري پیروي وکړي .

د نبوت د خاتمه اړوند دلایل :

د پیغمبری حقیقت خو وړاندي موږ تا ته څرګند کړ ،  په هغه حقیقت باندي غور کول به په خپله تا ته څرګنده کړي چی پیغمبران هر ورځ نه پیدا کیږي  ،  او نه هم دا ضروري ده چي هر قوم لره ځانګړي پیغمبر وي ، د پیغمبر ژوند په حقیقت کي د ده تعلیمی او د لارښوني ژوند دي ،  تر کومه چی د ده تعلیم او لارښونه ژوندی وي ، ګواکی تر هغه پوري دي په خپله ژوندي دی ،  مخکني پیغمبران ځکه مړه شول ,  چی کوم تعالیم او لارښونه چي دوي نړي ته ورکړي وو ،  نړیوال هغه بدله کړله , کوم کتابونه چی دوي راوړي وو،  یو یی هم نن په  خپل اصلي صورت کی نشته ، په خپله د دوي پیروان هم داوه نشي کولاي چي د دوي سره چي کوم کتابونه دي هغه د دوي د پیغمبران اصلي کتابونه دي ،  دوي د خپلو بیغمبرانو سیرت هم هیر کړي دی , د مخکنیو پیغمبرانو څخه یو هم په سمه او د اعتباروړ توګه نه شو موندلي ، دا هم د یقین سره نشو ویلي چي هغوي په کومه زمانه کي پیدا شوي ؟ اوچیرته پیدا شوي ؟ څه کار یي کړي ؟ څرنګه ژوند یی کړي ؟ د کومو خبرو تعلیم یی ورکړي ، او له کومو خبرو یی مخنیوی کړي ؟ همدا د دوي مړه کیدل دي .  خو محمد صلی الله علیه وسلم ژوندي دي ، ځکه چي د ده تعلیم اولارښونه لا تر اوسه اوتر قیامته ژوندي ده , کوم قران چي ده ته ورکړ شوي ، هغه د خپلو اصلي ټکو سره  موجود دي ,  په هغه کی د یو حرف ، یو ټکي , دیو زیروزیر توپیر ندي راغلي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند , خبري , کارونه ټول محفوظ دي ، او له څورلس سوه کالونو څخه وروسته هم د هغه د ژوندانه نقشه داسي روښانه ښکاري لکه چي موږپه خپله رسول الله صلی علیه وسلم وینو ، موږ په خپل ژوندانه کي هر وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښونی څخه سبق اخیستی شو ، دلته دا خبره  بایدپه ډاګه شي چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته بل پیغمبرته اړتیا نشته.
د یوه پیغمبر څخه وروسته د بل پیغمبر راتلل دري سببونه لري :
۱ – یا خو د مخکني پیغمبر تعلیم او لارښونه لمنځ تللي وي ،  او یا د هغه د لارښونه د بیا ځل وړاندي کولو اړتیا وي .
۲ -  یا د مخکني پیغمبر  هدایت او لارښونه مکمله شوي نوي ، اوپه هغه کی د ترمیم اواظافه کولو اړتیا وي ۳-  یا د کوم پیغمبر  هدایت او لارښونه په یو ځانګړي قوم پوري تړلي وي ، او د بل پیغمبر د راتللو اړتیا وي  (۱)
دا دري اړتیاوي  اولاملونه اوس نشته دي .
۱ -  د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تعلیم او لارښونه او کړنلاره موجوده اومحفوظه  ده ، چي هر وخت کولي شو، دا ورڅخه زده کړو چي د محمد صلی الله علیه وسلم دین څه و ، څه راز لارښونه یي راوړي وه ,  د ژوندانه لپاره یی کومه تګلاره رواج کړي وه ، او د کومو تګلارو د لمنځه وړلو کوښښ یي کړی و .  نو چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدایت او لارښونه له منځه نده تللي نو د بیا وړاندي کولو اړتیا یی هم نشته .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

۲ – د محمد صلی الله علیه وسلم په ذریعه ټولي نړي ته مکمل هدایت اولاربنونه شوي ده , اوس پدې لاربنونه کي د کوم زیادت او سمون لپاره د بل نبي د راتللواړتیا نشته، د دې لپاره دویمه اړتیا هم پرځای شوي ده .
۳ – محمد صلی الله علیه وسلم د کوم ځانګړي قوم د پیغمبری لپاره ندی راغلی ، بلکه د ټولی نړی لپاره رالیږل شوی دی، او ټول بشریت ته د ده هدایت اولاربنونه کافي ده , لذا اوس د کوم ځانګړي قوم لپاره د کوم ځانګړي نبي د راتګ اړتیا هم نه لیدل کیږي ، دا راز دریمه اړتیا هم پرځای شوي ده .
پدې لحاظ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د خاتم النبیین لقب ورکړ شوی ،او پرده باندې د نبوت سلسله ختمه شوي ده ، اوس نړی ته د بل نبي دراتللو اړتیا نشته ، بلکه داسي کسانو ته اړتیا ده چي په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره ولاړ شي ، او نور پرهغه لاره روان کړي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدایت زده کړي ، او په هغه باندې عمل وکړي ،او په نړی کي د هغه دقانون پر بنسټ حکومت قایم کړي ، هغه قانون چي رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځانه سره د بشریت دسوکالی لپاره راوړی دی .

پای

(!) یوه وړه اړتیا دا هم کیدلاي شي ,چی د یوه پیغمبر د کمك لپاره د ده په موجودګیی کي بل پیغمبر را ولیږل شي , موږ د دی یادونه ځکه ونه کړه چی په قران کریم کی صرف په دو ځایونو کی ورته اشاره شوي ده , او د هغه استثنایی مثالونو څخه نه ښکاري چی د الله تعالی په نزد د پیغمبر د کمك لپاره د بل پیغمبر رالیږل عامه قاعده وي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ